آصف بهاند ۲۰۱۶/۰۷/۲۵

# زما افغانستان
# (Mit Afghanistan)
## د افغانستان په باب یو مستند فلم ته بیا ځلي کتنه
### دویمه برخه

په دې لیکنه زما مقصد د فلم نقد نه دی، بلکې زما اصلي موخه دا ده چې دا خبره د همدې مقالې له لارې د نړۍ په ګوټ، ګوټ کې د افغانانو غوږونو ته ورسوم چې دغسې یو فلم، له داسې محتویاتو سره د افغانستان او افغانانو په باب جوړ شوی دی.
ځنګه چې ما څو، څو ځلې د خپلو ځینو مقالو په لړ کې دې موضوع ته اشاره کړې ده چې په پردي چاپیریال کې مهاجر افغانان له رنګارنګ ستونزو سره مخامخ دي، چې د دغو ستونزو په ډله کې یو هم په فرهنګي ډګر کې ستونزې دي. ستونزې افغانانو ته لکه باران او ږلۍ له آسمانه نه را ښکته کیږي، بلکې یا یې دوی خپله ځان ته زیږوي اویا یې نور د خپلو اهدافو د تر سره کیدوله پاره په مخ کې ور ته ږدي او دا هم ځان ته دلایل لري:
یو خو زمو وطنوال په ډیره سلنه کې د سواد له نعمت نه بې برخې دي، بیا کوم نیم چې سواد لري، د دوی له ډلې نه هم ډیره سلنه له مطالعې او روابطو نه قصداً ځان لرې ساتي، مطالعه نه کوي ځان له هر څه لرې او ګوښه ساتي او په پای کې له فرهنګي کارونو بې خبره پاتې کیږي. ښه مثال یې همدا فلم (زما افغانستان) دی. دا فلم په عین وختکې، د ډانمارک په دولسو ښارونو کې، پرته له کوپنهاګن نه، چې تکټ ور باندې لګول شوی و، په نورو ښارونو کې په وړیا ډول وښودل شو، له هغې ډلې نه په هیدرسلیف ( Haderslev ) ښارکې چې زه له یو شمیر نورو افغانانو سره په کې ژوند کوم.
دلته لوی او واړه اته اتیا (۸۸) تنه افغانان ژوند کوي، چې له دې ډلې نه پنځوس ( ۵۰ ) تنه لویان دي، خو د فلم لیدلو ته یوازې درې تنه لویان اوځلور تنه تنکي ځوانان راغلي وو. په داسې حال کې چې د فلم دښودلو اعلانونه ښېړ ورځې مخکې په عامه ځایونو کې لږول شوي وو او د دې تر ځنګه دا اعلانونه د دوو افغانانو له خوا لاس په لاس په ښار او بازارکې ویشل شوي هم وو. ما په خپلو سترګو ولیدل چې د ښاروالۍ د یو مسؤل دفتر د آمر له خوا د فلم اعلانونه او اړوند توضیحات، یوې افغانې کورنۍ ته ورکړل شول، خو هغو ښاغلو د فلم په لیدلو ځانونه زهیر نه کړل. دغسې یې در واخله په نورو ښارونو کې هم.
که له افغانستان او فرهنګ سره د مینې او علاقې مسأله مطرح شي، د دوی مقام بیا له تولو نه لوړ او تله یې درنه وي.
د فلم له لیدلو نه وروسته مې چې د همدې کرښو د لیکلونقشه په خپل ذهن کې ویستله، نو د معلوماتو د دقت له پاره مې څو تنو افغانانو ته تیلفون وکړ، د هغوی دې کور ودان وي زما د نظر وړ معلومات یې په دقیق او سمه توګه را کړل؛ خو د فلم د جوړیدو او خپریدو په باب یې هیڅ معلومات نه درلود.
یو بل تن داسې افغان ته مې هم تیلیفون وکړ، چې د کورنۍ یو غړی یې، ډنمارکې ژبې ته د فلم د پښتو متن په ژباړه کې کار کړی و، د دې تر ځنګ چې د فلم په باب یې لږ څه ګډ وډ معلومات را کړل، په غیر مستقیم ډول یې د دې فلم په باب د ډیرو پوښتنو په خاطر په جاسوسۍ هم تورن کړم او راته وې ویل:
«د دې پوښتنو تر شا ته هم کوم خاص استخباراتي هدف لري او...»
«زما افغانستان» فلم کې هڅه شوې ده چې دوران افغانستان د دردونوله ډلې د څو دردونو یو تت شانتې انځور لیدونکو ته ور وښیې، خو جوړونکې ګروپ په دغه کار کې زما له نظره پاتې راغلی دی، په تیره د فلم دایرکتر ښاغلی نقیب خواجه. کوم معلومات چې د فلم د ډایرکتر، ښاغلي نقیب خواجه په باب د فلم په ریکلامونواو دف لم په متن کې راغلی دی؛ د ده پلار، د ده له زیږیدو مخکې ډنمارک ته راغلی دی، دی په کوپنهاګن کې زیږیدلی، په ډنمارکې ټولنه کې لوی شوی، ښوونځې ته تللی او په ژورنالیزم کې یې زدکړې کړې دي؛ د همدې په خاطر دی د افغانستان له عینې ژوندانه، پیښو، کلتور، ژبو او... نه لرې پاتې شوی دی. ښایې د فلم د ضعف په دلایلو کې یو دا وي چې دی دافغانستان له هر څه سره نا آشنا دی. ما فلم له سر نه تر پایه ولید، خو د فلم د جوړیدو په مقصد باندې پوه نه شوم چې ولې او د څه له پاره جوړشوی دی؟ که موخه یې په هلمند کې د میشتو ډنمارکي عسکرو فعالیت وي، خو په فلم کې له سرنه


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په ځیر و لولئ

تر پایه پورې یو ډنمارکی عسکر هم نه شته او نه یې د فعالیت په باب څه ویل شوي دي، او که د استخباراتي کړیو له خوا هم دا کارشوی وي، یو مسیژ او هدف خو به رسوي. که افغانستان ته د ناتو او ډنمارکي عسکرو د تګ نه پخوا دا کارشوی وای، د دې فلم جوړولو او ښودلو ته یو دلیل کیدای شو، چې د افغانستان حالت دغسې خراب دی، تروریستان دي، طالبان دي او... په دې دلیل د مرستې له پاره قوا ور لیږل کیږي؛ او که د دې پالیسۍ له مخې چې راځه تنور تود دی، خپله ډوډۍ پخه کړه او نور خپله مخه نیسه، نو بیا سمه ده. ځکه په افغانستان کې د ټوپکي واکدارۍ په راتګ سره، افغانستان یوبې خاونده بې سر پوښه دیګی شو، د پوښتنې ځوک نه شته چې «د کندل بیا، پردل برو» مخه ونیسي، د همدې تګ راتګ په لړ کې دوی هم ولاړل، خپل پلان او پروګرام یې تطبیق کړ او بیرته په خپله مخه راغلل.
دا چې په دې فلم کې کلیوالو افغانانو څه و ویل، څه یې وکړل او دا فلم چیرې ځي او چیرې ښودل کیږي او د کوم هدف له پاره او څومره د افغانستان او افغانانو په ګټه یا نقص دی؛ دوی ور باندې خبر هم نه دي. بیوزلو بې خبرو افغانانو ته ښایي له موبایل سره یو ناچیزه مبلغ ور کړل شوی وي، چې د هغو پیسو په مقابل کې دوی د راغلو فلم جوړونکو د خوښې وړ تصاویر  واخلي.
د فلم له ظاهري اړخ نه داسې ښکاري چې د فلم جوړونکي مسولین پرته له دې چې د فلم محتوا، پیغام او پایلو ته پام وکړي؛ هسې دې ته خوشاله دې چې دوی مستند فلم جوړکړی دی او خپروي یې، او که د دې تر شا دوی کوم بل هدف ولري ــ چې ښایي ویې هم لري ــ دا به بیا بیله پوښتنه او بیل بحث وي. دا خبره ځکه کوم چې د اوریدو له قراره دا فلم نورې برخې هم لري او د افغانستان په نورو ولایتونوکي هم د موبایلونو په واسطه، دې ته ورته نور فلمونه اخیستل شوي دي، که دا معلومات رښتیا وي، نو د دې فلم پاتې برخې هم شته، چې څه وخت به راځي، زه ور باندې خبر نه یم.
فلم له کوپنهاګن پیل کیږي چې ښاغلی ډایرکتر(نقیب خواجه) د هوایي ډګر پر لور روان دی، بیا د هلمند هوایي ډګر ښیي چې یو افغان ده ته هر کلی وایي، کوم هوټل ډوله ځای ته یې بیایي، بیا موبایلونه ښودل کیږي، چې په هر موبایل باندې د هغو افرادو نومونه لیکل شوي دي، چې دا تیلیفونونه باید ور کړل شي.
د دې انځورونو په لیدلو سره لیدونکي پوهیږي چې مخکې له مخکې کوم تفاهم شوی و، او د فلم اخستلوله پاره افراد ټاکل شوي وو. له دې وروسته ټول هغه شیان ښودل کیږي چې دې غیر مسلکي افرادو  په لاس لرلو موبایلونو چمتو کړي وو.
د فلم په لیدلو یوعادي لیدونکی هم په دې پوهیږي چې فلم اخیستونکوته ویل شوي چې تاسوله خپلو کورنیو، ورځنیو فعا لیتونو،کلي کور او ورځني ژوند نه باید فلم واخلئ. د فلم په لړ کې کله، کله ښاغلی ډایرکتر(نقیب خواجه) را ښکاریږي چې په یوه کوټه کې خپل لیپ ټاپ ته ناست دی. نقیب خواجه کله، کله په دري ژبه خبرې کوي. د فلم په متن کې دی خپله وایي چې د ده پلار پنځوس کاله پخوا د افغانستان له لوګر ولایت نه د اروپا په لوري د کار له پاره راغلی دی، دی (خواجه) په کوپنهاګن کې زیږیدلی دی، همالته لوی شوی دی او په پښتو نه پوهیږي.
فلم سره له دې چې ډیر کډ وډ لیدلوته وړاندې شوی دی، خو بیا هم په لید لو سره یې لیدونکی پوهیږي چې د ښوونې روزنې خراب حالت، د جګړې شته والی او د امنیت نشتوالی، د ښځو د ژوند بد حالت ته په کې پاملرنه شوې ده. په ټول کې لیدونکي پوهیږي چې د هلمند په ولایت کې د ښوونې روزنې حا لت خراب دی. د فلم اخستونکو له ډلې نه یو تن وایي چې د امنیت د نه شتون له کبله نه شوکولای ښوونځي ته ولاړ شو. دغه راز د فلم په جریان کې یو تن له یوې اته نه کلنې نجلۍ نه،چې میږې، پسونه پیایي، پوښتنه کوي چې ولې ښوونځي ته نه ځې؟ ماشوم په ځواب کې وایي چې پلار یې نه پریږدي او دلیل یې هم داسې ښیي چې پلار یې وایي چې که دا ښوونځي ته لاړه شي، میږې پسونه به څوک وپیایي؟ ښوونځیو د تګ بله ستونزه جګړه او پا لاره کې دماینونوکرل دي.
په فلم داسې انځورونه ښودل کیږي چې د خلکو د ژوند سطحه ډیره ټیټه ده، په ځانګړي ډول د ښځو حالت ډیر بد ښودل شوی دی، هره ورځ جګړه ده، خلک له ډاره په کورونو کې پټ دي او د ډزو له ویرې نه شي کولای خپل ورځني کارونونه پر مخ بوزي.
په دې مستند فلم کې بله د پاملرنې وړ موضوع دا ده چې له طالبانونه دوی څه ډول تصویر وړاندې کوي. په فلم کې لیدل کیږي چې یو ځوان د ژورنالست په رول کې، د طالب په نامه درې داسې کسانو سره ناست دی خبرې کوي، چې هغوی خپل مخونه پټ کړي دي، په فلم کې ښوودل کیږي چې طالب ډوله شخص ته په تیلفون کې د ماین اینبودنې او چاودنې په باب خبرې کیږي، داسې لکه دی یې چې قومندان وي، او د بل طالب په موبایل کې بې موزیکه طالبي سندره اوریدل کیږي.
په بل ځای کې له پولیس نه پوښتنه کیږي چې تاسو له طالبانو سره څه ډول اړیکې لرئ؟ هغه په ځواب کې ورته وایي چې طالبا ن له موږ سره کار نه لري او موږ له طالبانو سره کار نه لرو، هغوی خپل کار کوي او موږ خپل کار کوو. داسې صحنې هم ښودل کیږي چې زخمیان او مړي دي، موټر ته پورته کیږي او ور سره د ماشومانو ژړا اوریدل کیږي. د فلم په جریان کې داسې ښوول شوې ده چې ماین اینبودنه ده، ماین چاودنه ده، ډزې دي، وژل دي مړي دي، وینې تویدل دي او په پای کې وحشت دی. بیا د ښاغلي ډایرکتر میلمه پال شخص روغتون کې لیدل کیږي چې د ټپیانو

---


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي.  په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ  maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ

پوښتنه کوي. د یوه زخمي پلار ورته وایي چې پر موږ امریکایانو ډزې وکړې او دې حالت ته یې ورسوولو. په بل تصویر کې ښودل کیږي چې چې د یودال له بل اړخ نه ماشومان امریکایي زغروال وسایط په تیږو او لوټو ولي او... که د فلم د جوړونکو مسؤلینو موخه د داسې انځورونو له ښودلو نه دا وي چې په افغانستان کې د بهرنیو سرتیرو، په تیره امریکا یې عسکرو موجودیت د دې ګډوډیو، مرګ ژوبلې، بې امنیو ا وبد مرغیو سبب وي او له هغوی نه خلک کرکه کوي او نه یې غواړي؛ نو جوړونکی ټیم ته زه په برالا او نیغ ډول وایم چې، له دې سره، سره چې په برابر کړي فلم کې مو ځینې حقایق شته چې ټوله نړۍ ور باندې خبره ده، او اوس د داسې فلمونو جوړول او مطرح کول ډیر نا وخته ده.

دا فلمونه باید لس کاله مخکې جوړ شوي وای او په ډنمارک کې نه، په امریکا کې ښودل شوي وای چې امریکایان، افغانستان ته د نظامي قوتونو د لیږلو په تیروتنه پوه شوي وای، له طالبي وحشت سره یې د مبارزې بله لاره لټولې وای، د عسکرو د لیږلو عاملینو ته یې د بیا واک رایه نه وای ور کړې. هغه وخت ټوله نړۍ غلې وه، له تروریزم سره یې د مبارزې ننداري ته ناست وو او د هغه چا د کار نتیجې ته سترګې په لاره وو، چې دوی د تروریستانو او غلو په مقابل کې د مبارزې له پاره انتخاب کړي وو. هغه خلک چې امریکایانو له طالبانو یا نورو مخالفینو سره د جګړې له پاره انتخاب کړي وو؛ آیا په دې نه پوهیدل چې هغوی خپله غله او تروریستان دي او له دې نه مخکې یې په کلونو، کلونو د غلا، ترور او ورانیو سابقه درلوده. اوس یې پایله دا شوه چې په خپله امریکایان او اروپایان له خپلو انتخاب کړو ملګرو نه تښتي؛ خو هغوی یې نه پریږدي.

فلم ټول یوساعت او اته ویشت دقیقې دی. په فلم کې راوړل شوی تصاویرله یو بل سره هیڅ ارتباط نه لري، د هر تصویر په لیدلو سره لیدونکی په بل لوري بیول کیږي، په داسې لوري چې د پیل موخه یې هم نه وي مالومه او پای یا نتیجه یې هم هیڅ. ټول هغه شیان چې په دې فلم کې ښودل شوي، پرته له شکه چې د افغانستان د خلکو دعیني ژوند ستونزې دي، خو د دې تر څنګه د افغانانو ژوند ډیرمثبت اړخونه او ښیګڼې هم لري او بهرنیو لیدونکو ته داسې ذهنیت ورکوي چې په افغانستان کې پرته له دې منفي شیانو، کوم بل څه نه شته؛ خو دا باید هیره نه شي چې په افغانستان کې د ښودلو، لیدلو او ویلو له پاره ډیر ښه شیان هم شته چې معمولاً یا د بې خبرۍ له مخې او یا هم په عمدي ډول نه ښودل کیږي.
په دې ډول فلم د یوه ماشوم په غږ چې ډیر مظلومیت او خوږ والی په کې نغښتی دی، د افغانستان د ملي سرود په زمزمې سره پای ته رسیږي، چې د فلم تر ټولو مثبت او د کشش وړ ټکی همدا دی.

دا وطـن افـغـانــســتـــان دی
داعـــزت د هــر افــغان دی
کـور د سولې، کور د توری
هـر بـــچی یې قهرمان دی...

پای


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولــئ